بېشکه چې ستاسو رب ډېر حياناک او عزتمند دی، هغه له خپل بنده نه حيا کوي چې کله ورته لاسونه پورته کړي او بېرته يې تش ور وګرځوي

له سلمان رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «بېشکه چې ستاسو رب ډېر حياناک او عزتمند دی، هغه له خپل بنده نه حيا کوي چې کله ورته لاسونه پورته کړي او بېرته يې تش ور وګرځوي».

[حسن] [ابو داود، الترمذي او ابن ماجه روايت کړی دی]

نبي صلى الله عليه وسلم د دعا پر مهال د لاسونو په پورته کولو ټينګار کوي او خبر راکوي چې الله تعالى ډېر حياء لرونکی ذات دی، او هېڅکله ورکړه نه پرېږدي، له بنده سره هغه څه کوي چې هغه پرې خوشحالېږي، او هغه څه پرېږدي چې زيان ور رسوي، (کريم) دی؛ له غوښتنې پرته ورکړه کوي، نو له غوښتنې وروسته به يې څنګه نه ورکوي؟ هغه د خپل مؤمن بنده څخه حيا کوي چې لاسونه يې د دعا لپاره ورپورته کړي او بيا يې تش، ناهيلي او له قبلولو پرته يې پرېږدي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5499